سلام خان ۲۰۱۲/۰۹/۰۵

# د کاندید وزیرانو په هکله مختلف عکسلعملونه



د افغانستان درو وزارتونو او د ملي امنیت د ریاست لپاره د ټاکل سوو کسانو نوم لیست دتائید پخاطر وولسی جرګی ته وړاندی شوی دی، د جمهوری ریاست له لوری د یکشنبې په ورځ جنرال مجتبی پتنګ د کورنیو چارو، جنرال بسم الله محمدي د دفاع وزارت، حاجي دین محمد د قومونو، قبایلو او سرحدونو وزارت او اسدالله خالد د ملي امنیت د لوی ریاست لپاره وټاکل خو داچې په ولسي جرګه کې د درو وزیرانو او د ملي امنیت د ریاست لپاره د نومول شوو کسانو په اړه څه نظر موجود دی او په اړه به یې څه پرېکړه کیږي؛ د دې جرګې یوه غړي او دقندهار دخلګو وکیل عبدالرحیم ایوبي وړاندی د ځینو رسنیو سره په خپلو خبرو کی ویلی دی چی زموږ تشویش د افغان ولسمشر د هغه نه متقابل احترام په اړه دی، چې نه یې د افغانستان اساسي قانون او نه یې هم ولسي جرګې ته لري، ولسمشر ولسي جرګې ته په یو ډول خپل پیغام ورکړی، چې که ملي شورا رایه ورنه کړي نو سرپرستان به یې وټاکي او که د ولسي جرګې غړي منفی رایه ورکوي نو دا اندېښنه لري؛ چې د کاندیدو وزیرانو له دښمنۍ سره به مخ سي دا لویه اندېښنه ده د کورنیو چارو پخوانی وزیر ښاغلی محمدي نژدې یوه میاشت مخکې همدې ولسي جرګې په خپلو کارونو کې د نیمګرتیاوو او ستونزو په خاطر سلب صلاحیت کړ، د یو شمېر وکیلانو انتقاد هم دا دی، چې ولې ولسمشر بیا نوموړی د دفاع وزارت لپاره کاندید کړی خو دا د ولسي جرګې عمومي نظر نه دی او وکیلان وایي، د دفاع وزارت ته د هغه نومونه کوم قانوني ستونزه هم نه لري ،د نوموړي تر څنګ پر اسد الله خالد د بشر د حقونو د څار نړیوال سازمان د بشري حقونو د تیري تور لګولی او ویلي یې دي؛ په کندهار کې یې شخصي زندانونه لرل او بندیان یې شکنجه کړي دي خو افغان چارواکو او خپله اسدالله خالد له رسینو سره په خبرو کې دغه تورونه په کلکه رد کړي دی ،له بله لوری مشهور پاکستاني ژورنالیست او د سیاسي چارو کارپوه احمد رشید د ولسمشر حامد کرزي له لوري په کابینه کې د بدلون او د ملي امنیت د رییس په توګه د اسدالله خالد د ټاکل کېدو د احتمال په اړه په یوه لیکنه کې، چې په بریتانوی فیننشل ټایمز ورځپاڼه کې خپره شوې، ویلي چې د ولسي جرګې له خوا د دفاع او کورنیو چارو وزیرانو له سلب اعتماد کېدو وروسته کرزي له رامنځته شوي فرصته په استفادې د ملي امنیت رییس هم لېرې کړ.

د احمد رشید په نظر مهم بدلون به له توقع سره سم د ملي امنیت د غښتلي ادارې د رییس په توګه د اسدالله خالد احتمالي ټاکنه وي احمد رشید، په دې لیکنه کې، چې سرلیک یې دی: «هغه وخت دی چې پاکستان له طالبانو سره د افغانانو د خبرو ملاتړ وکړي» وایي چې اسد الله خالد د طالبانو سخت مخالف دی او څو ځلې د هغوی له مرګونو حملو روغ وتلی دی. ده تل پر ځان په حملو کې د پاکستان استخباراتي اداره آی ایس آی په لاس لرلو تورنه کړې. ښاغلی خالد او آی ایس آی له یوه بله کرکه کوي احمد رشید وایي چې د ملي امنیت پخوانی رییس امر الله صالح په خته تاجک و او پاکستان د هند د پلویتوب په پلمه په اسانه پرې نیوکې کولی شوې. خو ښاغلی خالد د غزني پښتون دی او آی ایس آی داسي ښيي چې پښتانه خو د پاکستان ملګري دي. پر دې سربېره اسد الله خالد له ډېره وخته ولسمشر کرزي ته د اعتماد وړ دی او له بلې خوا یې په تېرو وختونو کې له امریکایانو سره له نژدې کار کړی دی. دا دواړه د ده لاس خلاص پرېږدي چې د پاکستان په وړاندې مهاجمه تګلاره خپله کړي.

احمد رشید د خپلې لیکنې په دوام کې کاږي: د سرحدونو او قبایلو د چارو د وزیر په توګه ښاغلي خالد په وروستیو کې د افغانستان په پنځو ولایتونو کې د کلیوالو د پاڅون په خاطر امتیاز اخیستی دی. په پنځو ولایتونو کې خلکو طالبان له خپلو کلیو شړلي خو په عین حال کې له حکومت سره هم همکاري نه کوي احمد رشید وایي چې په غزني، لغمان، ننګرهار، کندهار او بادغیس ولایتونو کې د طالبانو پرضد ولسي پاڅونونه کېدای شي د ۲۰۱۴ کال تر پایه، چې امریکایي پوځیان له افغانستانه وځي، لوبه بدله کړي.

کابل او واشنګټن دې نوې طالب ضد څپې ته خوشاله دي، خو په عین حال کې له دې بېرېږي چې د پاکستان د پولو په اوږدو کې سیاسي کنټرول له لاسه ورکړي او یوه داسي نوي ولسي ځواک ته په لاس ورشي چې د حکومت واک نه مني احمد رشید وایي، د اسد الله خالد تر مشرۍ لاندې به ملي امنیت یقیناً لېواله وي چې د طالبانو د شړلو لپاره ولسي پاڅونونه پراخ شي خو حکومت ومني احمد رشید لیکي، آی ایس آی له اسدالله خالده په دې بد وړي چې نوموړي د سرحدونو او قبایلو د وزارت په موده کې په کونړ ولایت کې هغو پاکستاني طالبانو ته پناه ورکړه چې له څو کلونو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

راهيسي د پاکستاني پوځيانو پرضد جنګيږي. دې ډلې په پوله کې د پاکستاني پوځيانو پر پوستو ګڼې حملې کړي، په لسګونو پاکستاني عسکر يې وژلي او بېرته افغانستان ته تښتېدلي دي.
احمد رشيد وايي، پاکستان له يوې لسيزې راهيسي د افغان طالبانو ملاتړ کوي او په خپله خاوره کې يې پناه ورکړې، له همدې کبله په افغانستان کې د پاکستان د پوځ مخالفو طالبانو ته پناه ورکول افغانانو ته متقابل اقدام ښکاري احمد رشيد وايي چې اسد الله خالد په داسي وخت کې د ملي امنيت رييس ټاکل کيږي چې په کابل کې د پاکستان پرخلاف ولسي او سياسي غوسه مخ پر زياتېدا ده. ښاغلي کرزي له پاکستان سره په داسي حال کې هرراز خبرې درولي چې افغان چارواکي وايي له طالبانو سره د پخلاينې په پروسه او دغه راز د هغو وعدو په پوره کولو کې د پاکستان پوځ نهيلي کړي چې افغان چارواکي به پربېږدي چې په پاکستان کې له مېشتو طالب مشرانو سره خبرې وکړي  احمد رشيد وايي چې پاکستان (حکومت يا پوځ يې) له دې پرته چې (په افغانستان کې يې) څه نه خوښېږي د دې هيواد په اړه کومه منسجمه او منظمه پاليسي نه لري احمد رشيد په پای کې خبرداری ورکوي چې اوس د افغانستان او پاکستان د قواوو ترمنځ په پوله کې د شخړو خطر تر پخوا زيات دی. دا کېدای شي د دې سبب شي چې پوځيان د يو بل خاورې ته د حمله کوونکي د تعقيب لپاره ننوځي احمد رشيد په عين حال کې دا احتمال هم لېري نه بولي چې دواړه هيوادونه د يوبل له ببرې د سولې مېز ته کښېني احمد رشيد خپله ليکنه په دې جمله پای ته رسولې چې پر پاکستان نړيوال فشار مخ پر زياتېدو دی چې د کابل او طالبانو ترمنځ د پخلاينې د زمينې د برابرولو په خاطر لا منطقي پاليسي خپله کړي
خو اسدالله خالد دخپل ځان په باب تورونه ردوي اوويلی دی چې: زه دغه ټول تورونه ردوم، پر مونږ باندي ځکه دغه شان تورونه لګول کيږي، چې غواړي د افغان دولت د پرمختګ پروسې ته تاوان ورسوي ،ولسمشر حامد کرزي د يوه فرمان په ترڅ کي اسدالله خالد د دغه رياست د سرپرست رئيس په توګه اعلام کړی دئ داسي ښکاري، چي که ولسي جرګه اسدالله خالد ته د اعتماد رايه هم ور نه کړي، نو نوموړی به د يو څه وخت له پاره د دغه رياست د سرپرست په توګه دنده تر سره کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ